# د سولې سفر



## پنځلسمه کېسه

دوهم چاپ

# دسفر پای ته رسیدل


**لیکونکي:**

کیون آرتر لند
مارى- جو لند
داکتر جوانا سنتا باربارا
داکتر گرایم مک کوین

دیزاین: یار محمد تره کی
انځورکونکۍ : یارمحمد تره كي

*ژباړونکي: ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل*



موسسه کمک به اطفال افغانستان
**Help the Afghan Children**
[www.htac.org](http://www.htac.org)

**کيسې او د ښوونکي لاربنود په لاندې ويب سايتونو کې شته دئ:**

**[www.journeyofpeace.ca](http://www.journeyofpeace.ca)**

**او**

**[www.htac.org](http://www.htac.org)**

ددې کيسې کتاب د موسسه کمک به اطفال افغانستان په واسطه تمويل او ژباړل شوی دی.

موسسه کمک به اطفال افغانستان

**Help the Afghan Children**

*'building a civil society through education'*

# د سولې سفر

پنځلسمه کېسه

**دوهم چاپ**

# د سفر پای ته رسیدل


لیکونکي:

کیون آرترلند

ماري- جو لند

داکترجوانا سنتا باربارا

داکترگرایم مک کوین



دیزاین: یار محمد تره کی

انځورکونکۍ : یارمحمد تره کي

اصلاح کونکي : کیون آرترلند او ماري – جو لند

د پروژې تنظیمونکي: ډاکترصدیق ویرا او ډاکتر ګرایم مک کوین

ژباړونکي : ثریا سدید او محمد یوسف جبارخیل - موسسه کمک به اطفال افغانستان

دسولې دڅېړنو مرکز ، دمک ماستر پوهنتون
هامیلتون ، آنتریو ، کاناډا

د 1388 کال پسرلی

**په کیسه کې ښکیل کسان :**

**جمیله** : یوه ۱۰ کلنه نجلی چې دافغانستان دیوې لرې پرتې سیمې په یو کلي کې ژوند کوي.

**احمد** : دجمیلې ۵ کلن ورور

**عبدالله**: دجمیلې ۱۵ کلن ورور

**حلیمه** : دکوچنیانو مور

**میرزا**: دکوچنیانو پلار

**بي بي جان** : دکوچنیانو پلرنۍ انا

**غلام کا کا** : دکوچنیانو پلرنئ نیکه

**یونس** : دکوچنیانو کا کا او دبي بي جان او غلام کاکا کشر زوی ، چې په ۲۰ کلنۍ کې دماین دچاودېدو له امله ووژل شو.

**فاطمه** : دکوچنیانو تروراو د یونس کاکاځوانه کونده

**علي** : دکوچنیانو تره چې په ښارکې هستوګنه کوي.

**عایشه** : دکوچنیانو ترور ، دعلي میرمن چې په ښارکې ژوند کوي .

## دکیسې لنډیز :

جمیله له خپلې کورنۍ سره دافغانستان په یوکلي کې ژوند کوي . دهغې کورنۍ دهېوادپه داخلي اخوډب کې پخوا هم ډېرې ستونزې لېدلې وي اوهغه یې لا هېرې شوې نه وې چې یوبل مصیبت ورباندې راغی . یونس کا کا چې په ځمکه کې یې کار کولو،یوماین پرې والوت اوهغه یې وواژه اوپلار یې ،میرزا، یوه پښه له لاسه ورکړه .

**دجمیلې دسوغات په کیسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې دیوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، دعبدالله تشویش اوسودا له دې امله ده چې جنګ دده دمکتب ددوران یوملګري ته کلک ګذارورکړی دئ اودهغه په شخصیت اوسلوک یې بدلون راوستی دی . دجمیلې دوېرونکوخوبونوراز اوبي بي جان چې غواړي په یوه ځانګړې طریقه دهغې درملنه وکړي په دې کیسه کې ځاي شویدي .

**د بی بې جان د هوښیاری په کېسه** کې ښودل شوي دي چې هغه په خپله کورنۍ کې د یوې ښې مشاورې په توګه رول لوبوي ، د عبدالله تشویش او سودا له دې امله ده چې جنګ دده د مکتب ددوران د یوملګري روغتیا ته کلک روحی ګذار ورکړی او دهغه په شخصیت او سلوک کې یې بدلون راوستی دئ، د جمیلې د ویرونکو خوبونو راز او بی بی جان چې غواړی په یوه ځانګړی طریقه د هغې درملنه وکړي په دې کېسه کې ځای شوي دي .

**دکلچودپخولودکېسې** ډېره برخه دجمیلې ددردونو اورنځونو څخه حکایت کوي . هغه ماین دومره وېرولې چې په دې برخه کې دعبدالله له قهرېدلوسره سره ، له ماینوڅخه په پاکه شوې لاره هم دتللو په وخت کې لړزېږي . بي بي جان دکلچوپه پخولو کې له جمیلې سره مرسته کوي اوجمیله له همدې وخت څخه په ګټې اخیستلو کوښښ کوي چې دخپل پلار دټپي کېدلوغم وزغمي . همدارنګه بي بي جان غواړي داسې یوآغېزمنه لارپیداکړي چې دهغې په وسیله فاطمه وهڅول شي هغه غم چې ورته دیونس کا کا دمړینې له امله پیداشوی دئ په خپله ژبه ووایي .

**دمیرزا دغمجن زړه په کېسه** کې ،دجمیلې لپاره داډېره ستونزمنه ده چې وپوهیږي ، دمیرزاپه زړه کې څه رازپروت دئ چې هغه یې دومره غمجن کړیدئ . جمیله له دې کبله ډېره خپه ده چې

پلاريې اوس هغسې خوښ نه ښکاري لکه له معيوب کېدلو څخه چې مخکې وو . پلاريې داسې يو سړی وچې ډېرې کيسې يې زده وي . دجميلې ماشومانه پوښتنې ميرزا ته ژړاورولې ، اودا ورپه يادوي چې هغه پخوا څومره خوشحاله سړی وو . اوداهيله ، چې بېرته پخوانی حال پرې راشي ، دده په زړه کې راژوندۍ کوي

**د يونس دسندرې په کيسه کې**، احمد او جميله د فاطمي غم او خپګان، چې هغه د يونس کاکا ځوانه کونډه وه، احساسوي او کوښښ کوي چې فاطمه بيرته خوشحاله کړي. بي بي جان هم په دې موضوع پوهيږي هغه خپل فاميل ته د مختلفو لارو وړانديزکوي. هغه دکورنۍ له غړوڅخه غواړي چي يوځای کې راټول شي او هغه خوږې خاطری چې له يونس څخه يې لري د سندروپه ويلو ونمانځي

**د کور پرېښود لو په کېسه کې**، هغه وخت چې دشپې له خوا د دوی په کلی دمر دکيودويشتلو باران جوړ شو، کورنۍ له دې ډارونکي واقعيت سره مخ شوه چې بايد خپل يو ګران شئ چې هغه ددوی کور و ترک کړي. د کورنۍ هرغړی له د غې ناحيې څخه کلک روحي ګذار خوري. خو په اخرکې دوي په دې پوهيږي چې بايد له زړه ورتيا څخه کار واخلي او دهغو په وړاندې مقابله وکړي.

**د يونوي ملګري په کيسه کې** دميرزا کورني غواړي د علی کورته ولاړه شی . دعلي کورته له رسيدلو څخه مخکې دوی دلارې په اوږدوکې دميرزا دېو پخوانې اشنا کورته ورګرځي . دميرزا ددغه دوست په کور کې عبداله د هغو خلکو په برخه کې چې په نورو ژبو غږيږي اويادبل مذهب پيروان دي دقضاوت کولو يو ارزښتناک درس زده کوي.

**د پخلا ينې په کېسه کې** کله چې د جميلې کورنۍ د ښار په لورې ځي، عبدالله وليدل چې جميلې له کوره څخه خپله پيشو هم له ځان سره راوړې ده . د سفر په اوږدوکې هغې له ځان سره پټه ساتلې وه، عبدالله په قهر سره پشی له جميلې څخه اخلي او دسرک دغاړې بوټو ته يې ور غورزوي. جميله په ورور باندې په قهر ده او داسې ځان ښيي چې ګواکې ورورنه لري، دا اوس بي بي جان پورې اړه لري چې د هغوي د پخلا کولو لپاره يوه لاره ومومي.

**دميرزا دقهر په کيسه کې** ميرزانشي کولی چې خپل اعصاب کنترول کړي . داکاردده دکوچنيانو ، جميلې اواحمد ، دوېرې اوډارسبب ګرځي . دميرزا عصبي کيدل دهغه په کوچنيانو ناوړه اغېزپرېږدي اوداددې لامل ګرځي چې هغوی تل دنورو په وړاندې تنده اوتاوجنه رويه اختيارکړي . احمد چې پټ شوی وودخپل پلار اوبي بي جان خبرې آوري . دوی د هغې ناآرامۍ په هکله غږېدل چې ميرزاته دده دپښې دغوڅېدو له کبله پېداشوېده . داحمد موندل په هغه ځای کې چې پټ شوی وو دازمينه برابره کړه چې دپلار اوزوی ترمنځ يوځل بيااړيکې سمې شي.

**د سولې او پخلاينې په کېسه کې** د بي بي جان عالمانه مهارتونه يوځل بيا ازمويل کېږي. هغوی په دې لټه کې دي چې د ميرزا دورور کور، علی او مېرمن ئې چې په ښارکې هستوګنه لري،پيدا کړي. دوی مخکې له دې چې د علی کورو مومي، د کډوالو په يو کيمپ کې چې دا کيمپ په يو زاړه ښوونځی کې جوړ شوی وو ځای په ځای شول. کله چې د ميرزا کورنی خپل موقتي ژوند په دغه تنګ ګوټ کې پيل کړ، عبدالله له يو کوچنی هلک سره په دې خبره چې هغه خپل بايسکل د نور ود اوسيدلو په ځای کې درولی وو جنګ وکړ.

**دعبدالله او د لوړ قدې سړي په کېسه کې** ، عبدالله له يوې اونۍ راهيسی له خپل فاميل سره د کاکا په کور کې اوسېږي . هغه ډيره سخته تبه لري . هغه مخکی له دې چې ويده شي ، د کوچنيوالي د دورې هغه هيلي او ارمانونه په ياد راولي ، چې غوښتل ئې ، کله چې غټ شی د عسکری خدمت ته به ځی هغه په خوب کې يوقوی هيکل لرونکی عسکر په داسی حال کې وينی چې نوموړی په مارکيټ کې دی اوله ده سره د جنګ د واقعيتونو په اړه خبرې کوي.

**د نوی ژوند په کېسه کې** جميلې له خپل کاکا، علی او ترور، عايشی ، سره وپيژندل او دا پيژندنه د دې لا مل شوه چې هغه اوس له کور څخه دلرې والي غم نه احساسوي.

هغه اوس خوشحاله برېښي . خو بيا هم کله چې حليمه دې ته وايي چې ډېر ژربه خدای پاک يو ورور يا خورورکړي . هغه د دې خبرې په اورېدلو ډېره خوابښنې کېږي. دا ځکه چې د دوی ژوند ډېر تيت او پرک دئ اوثبات په کې نشته خو مورئې پوهوي او ورته وائي : " د

ماشوم زیږول د لوی څښتن تعالی له نعمتونو څخه یو نعمت دئ چې خدای پاک ئې د دوی نصیب ګرځوي.

**کورته د ستنېدلو کېسه** هغه وخت پیل کېږي چې د میرزا کورنۍ له یو کال څخه وروسته خپل کورته ورګرځي . کله چې د هغه کورنۍ د بیرته ستنېدلو لپاره ځان چمتوکوي ، هغه اختلاف چې لا تراوسه هم د حلیمې او فاطمې ترمنځ شته دی په روښانه ډول لېدل کېږي .

**د حلیمې او فاطمې ترمنځ اړیکی** ددې کېسی اصلی موضوع ده . کورنۍ د دوهم ځل لپاره کلی ته ورګرځي . علی او عایشه هم له هغوی سره ځي او یو څه موده د میرزا له کورنۍ سره په کلی کې پاتې کیږي . ناڅاپه د حلیمې ماشوم پېداکېږي . فاطمه د قابله ګۍ له مهارتونو څخه ګټه اخلي او د ماشوم په زیږیدلوکې مرسته کوي . له ډیرو ستونزو سره سره فاطمه توانېږي چې د حلیمې او دهغې د ماشوم د روغتیا پالنه وکړي . د فاطمې مرسته ددې لامل ګرځي چې حلیمه د لیوره ښځې سره بیرته پخلا شي .

**د سفر د پای ته رسیدلو په کېسه** د درملنې پړاونه او د هغو اړیکو ښه کول چې په یوه کورنۍ کې وجود لري په روښانه ډول ښودل شوې دي. دا کېسه د بي بي جان په خوب لېدلو پېل کېږي او د بی بی جان هغو اند یښنو ته چې د کور دودانۍ په اړه ئې لري ګوته نیسی. کله چې کورته راستنیږي ویني چې د دوی کورته ډېر زیان نه دی رسیدلی. هغه وخت چې دوی کورته راستانه شول اوکله چې د لومړی ځل لپاره ټول په یو دسترخوان د ډوډۍ خوړلو لپاره راټولیږې، دوی پوهیږی چې کوم شیان په رښتیا د دوی لپاره ډېره مهم دي.

## د درملنې عنصرونه:

هم غبرګ، له ساده ژوند څخه خونداخیستل او هیله

**د سوله ایزوکړووړو لپاره لاربښوونه**: مرسته، ګټور واقع کیدل

**ستونزې:** له ناپېژندل شوو شیانو څخه وېره

**د درملنې لارې:** د اړیکو بیرته پېوندول، بیرته خپل فرهنګ ته ګرځیدل د هېلو او خوبو نو رښتیا کېدل، کورنی یووالی او کورته ستنېدل

# د سفر پای ته رسېدل



بي بي جان خوب ولید چې هغه په یو لوی بازار کې یو ځوک لټوي چې کورته بوځي. دې هغو خلکو ته چې ددې له څنګ څخه تېرېدل په پریشانی او اندېښنی سره کتل . هغه د اشنا څېرو په لټه کې وه خو هلته هیڅ اشنا شتون نه درلود. کله به چې له دې سره ځوک سترګه په سترګه شو ژربه ئي ترې سترګي واړولي.هر چا په تلوار سره داسې پلورونکي لټول چې ښه شیان ولري.

په یوبل ګوټ کې ئې یوه بوډۍ ښځه ولیدله  د سر ډول ډول دستمالو نه یې دخرڅلا و لپاره ښورول. بي بي جان احساس کړ چې یو چا ددې په اوږو لاسونه کېښودل. کله ئې چه مخ ور واړولو یو ړوند سړی یې ولید چې دوه جوړه بوټان ورسره دي. یوه جوړه ئې ډېر نوی او بله جوړه ئې ډېر زاړه وو.

وړانده سړي له بي بي جان څخه تپوس وکړ:" کوم جوړه بوټان غواړي ؟ "  بي بي جان ځواب ورکړ : " نه پوهېږم" د بي بي جان پام شو چې هغه سړی ړوند دی.

سړی وویل: " خبر نو زه مشوره درکوم چې دغه واخله ! " نوموړی  هغه زاړه بوټان ورته وړاندې کوي او ورته وایي: " دا بوټان پوهیږي  چې تا چېرته ژوند کولو او  هر چېرته چې ته وغواړې لاړه شي هغه دې په چټکۍ هغه ځای ته رسوي . خو دا نور بوټان باید ښه و کارول شي تر څو همدا ځانګړتیا پیدا کړي. دا نوي بوټونه په ورو ورو ځي. او ګوره کله چې د موخې ځای ته ورسېدلې  دوی په خپل حالت کې بدلون راوړي. دا یو ئې تاته تحفه درکوم وئې منه.  بي بي جان خپله ګوته په شونډه کېښودله او لږ فکر ئې وکړ. او په پای کې ئی  پرېکړه وکړه چې کوم یو واخلي.

ناڅاپه د جمیلی د ټوخې غږ ټکان ورکړ او له خوب څخه راوېښه شوله. جمیله له هغی څخه لرې وېده وه. جمیله سمدستی په خپل ځای کې کښنیاسته او څلورو خواوو ته یې ددې لپاره کتل چې و پوهیږي چې هغه چېرته ده . کله ئې چې سترګې په بي بي جان ولګېدلی وېی لېدل چې هغه وېښه ده جمیلی

پوښتنه وکړه: " بي بي جان خوب نه در تللو؟"

بې بې جان ځواب ورکړ : " بي بي دې ځارشه خوب مې وړي . "

جمیلې پوښتنه وکړه : " لکه چې ما له خوب څخه راوېښه کړې !"

بي بي جان ځواب ورکړ: " ځنی وختونه له خوب څخه په وېښه کې آرامي ډېره وي. "

د څو ګړیو لپاره ددوی په شا او خواکې یواځې د دوی د کورنۍ د غړو د ساه اخیستلو آواز غوږونو ته رسیدلو.

جمیلې وویل: " آیا سبا شپه به موږ په کورکې وي؟"

بي بي جان ځواب ورکړ: " هو زما کوچنۍ لورې. "

جمیلی پوښتنه وکړه: " ټول شیان به دنن ورځې غوندې وي؟"

بې بې جان ځواب ورکړ: " هوهغه شان به وې کله څرنګه چې اوس دي. " بیائی تکرار کړه " هوهغه شان به وي کله څرنګه چې اوس دي. "



د لمر له راختلو څخه څولحظې وروسته، کورنی له خوب څخه راویښه شوه او د خپل وروستنی پاتې سفر لپاره ئې ځان چمتو کولو . له امین او سعیدی څخه ئې له دې کبله چې ددوی بې ښه میلمه پالنه وکړه، د دوهم ځل لپاره مننه وکړه. میرزا خپله یوه قالینه چې په ښارکې بې اوبدلې وه امین او سعیدی ته د سوغات په توگه ورکړه. دوی د لارې ډېره برخه په همغه سهارکې په چوپتیا سره ووهله. میرزا کله کله د لارې په اوږدوکې احمد ته د هغه د کوچنیوالې کیسې کولې او حلیمی هم ورته غوږ کېښودلو. حلیمې لیدل چې میرزا روغتیا موندلی ده، قهر بې لږ شوی دئ او د خپل ژوند خوږې خاطرې را په زړه کوي، ډېره خوشحاله وه.


Y. TARAKI
07.03 ©



د سفر په اوږدوکې دوی د ماین پاکۍ د یو ټیم له ځنګ څخه تېرېدل چې هغوی د ماینونوپه له منځه وړلو بوخت وو. عبدالله د هغوی ځنګ ته ورغی چې مرسته ورسره وکړي. له هغو سره یې خبرې وکړې او له هغو څخه یې مشوره واخیستله او هم یې په ځینو موضوع ګانو کې چې دی پرې پوهیدلو هغوی ته مشوره ورکړه. نور د سرک په غاړه ودرېدل او دمه یې وکړه. و چه میوه او بسکت یې وخوړل حلیمې له فاطمې څخه وغوښتل تر هغه وخت پورې چې دا خواړه خوري، ددې ماشوم دې ونیسی. احمد پتنګا نو پسې ددې لپاره منډې وهلې چې یو څولحظې ئی غوږونه د پلار له کېسو ویلو څخه آرام شي. له څو لحظو وروسته عبدالله دخپلې کورنۍ ځنګ ته راغی . لږ خواړه ئې وخوړل اوبیا ئې له ټولوو غوښتل چې حرکت وکړي .



دمازدیگروخت وو، هغوی خپل کلی له لرې ولید . ځینې کورونه بمبارد شوي وو . ځینې چورشوي وو اوځینې دمعجزې په ډول روغ رمټ پاتې وو. ټولوچې فکرونه ئې دخپل کورپه لور اوښتې وو خپل ګامونه اوچت کړل . جمیلې پوښتنه وکړه : " بي بي جان ! فکرکړې چې ټول شیان به روغ وي ؟" بي بي جان ځواب ورکړ: " امیدخو لرو" احمد په ډاډه زړه وویل : "زما په نظر خو ټول شیان به روغ وي . "



په پای کې کله چې خر دانګړدروازې ته ورسیدټول آرام شول . دوی ولیدل چې دکوریودیوال ئې لږڅه ویجاړشوی دی . خونورکورپه خپل پخواني حال پاته دی .

ځودقیقي وروسته ټوله کورنۍ دیوګروپ په ډول دبي بي جان لخوا رهنمائي کېدله اودکورټولې برخې ئې خورا

په دقت سره وکتلې . هغوی غوښتل چې دکورپه وضعیت پوه شي . هغوی داسې خپل کورکتلو لکه ځوک چې

دلومړي ځل لپاره خپل هستوګنځی اوبڼ ګوري . کله چې دوی دخپل کورد ټولو شیانوله سموالي څخه ډاډه شول

پس له هغې هرچاته خپلې خاطرې ورپه زړه شوې .

بي بي جان په وارخطا ډول بوس خانې ته ولاړه . بوس ئې سره لرې کړل . له ځودقیقو لټون څخه وروسته بي

بي جان په وېره کې شوه خوناڅاپه ئې ګوتې په بکس ولګېدې . بوس ئې یوې خواته کړل اوبکس ئې ترې

راوکېښ اوهغه ئې خلاص کړ وئې لید چې

بکس له عکسونو څخه ډک دی . هغه عکسونه چې ددې دخپل واده ، د دې د کوچنیانو او لمسیانود تولد او

همدارنګه ددې د زامنود ودونواود دوی د کورنۍ دتېرحال ځرګندوی ووپه کښې پراته وو. هیڅ عکس ما ته

شوی نه وو خو خاوری او د دوړې پرې ناستې وې.

جمیلې په باغ کې سترګې اړولې او په هغه ځای کې چې دې تصوېرونه رسم کړې وو او په وړو تیګوئی نښانې

کړې وو قدم وهلو. دعا ئې وکړه اود لوی څښتن تعالی شکرېې ادا کړ او خپلې سترګې یې و غړولې ، د هغو

تیګو په لیدلو چې دې په ځمکه راټولې کړې وې او لا په همغه حالت اېښودل شوې وی او له ځایه خوځیدلې نه

وې ، حیرانه شوه . جمیله ټېټه شوه یو کوچنی کانی یې راپورته کړه او په لاس کې یې کلک ونیو.

.





پدې وخت کې احمد هم په کورکې و هغه خپل دلرگي اسپکۍ چې پلارئې ورکړی وو په ډېره زور د دیوال له يو درز څخه بهر وويستلو وروسته کله چې ده غوښتل د بي بي څنگ ته ورشي او د لرگی هغه اسپکۍ چې ده ددیوال په درزکې کیښودلی وو هغې ته ور وښيي. په لارکې ېې له جمیلې سره ټکر وکړ ځکه جمیله هم د هغه مخامخ را راروانه وه او په بغل کې ېې څه شی کلک نیولی وو.



له ټولو کارو نو سره سره د شپې د ډوډۍ لپاره هم تیاری نیول کېدلو. بي بي جان کوچنیان د مرستې لپاره راو غوښتل او ټول د هغې څنګ ته ورغلل چې مرسته ور سره وکړي

جمیلی هیڅکله هم په یاد نه وو چې د کور کارونه به ېې دومره په مینه او شوق اجرا کړي وي څومره ئې چې اوس په مینه سرته رسوي . په دغه شپه د کورنۍ د غړو راټولیدل په یو دسترخوان باندې د دوی په ذهن کې د یولوی جشن څخه ډېر مجلل بریښیدل. له ډوډۍ خوړلو وروسته دوی پاک خدای(ج) ته دعا وکړه او د خدای تعالی د نعمتونو شکرئې ویوست. جمیلې د خپلې کورنی د ټولوغړو په تندیو کې خوښې لیدله.مور ئې کوچنۍ فاطمه په زانګوکې ویده کوله ، فاطمی ترور او عایشی ترور خواړه نوروته په مخ کې ایښودل .

عبدالله د یوځوان سړی په ډول ځرګندیده او دی اوس هغه بد خوی ورور نه دی لکه پر وسږ کال چې وو.

غلام کاکا، میرزا او علي کاکا د کورد جوړولو په پلان کار کولو، بي بي جان ډېره خوشحاله وه او خندل یې، ټول ډېر ستړی مګر ډېر خوشحال خوشحال وو. جمیلی احمد ته ور وکتل او په خندا ئې وویل: " څومره ښه ده چې نن مونږ په خپل کورکې یو. "

احمد مسکی شو. د هغی خبره ېی دسرپه خوځولوسره تائید کړه او وئې ویل: " دا په ټولو هغوخوړو کې چې ما تراوسه خوړلی دي ډېر خونده ورخواړه دي."

***********

